هدية الملكوت

شرح

مسلم الثبوت

از افادات:

مولانا صاحب مارتونگ رحمہ اللہ

مرتب:

سید احمد ہزاروی حفظہ

مکتبہ رشیدیہ

Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاؤن لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بسم اللہ الرحمن الرحیم

عرض مؤلف

حامداً ومصلياً:اما بعد: پس وائی بنده فقیرچه داشرح دمسلم الثبوت ده چه د فیوضا تواوتحقیقاتودشیخنا وسرشدنا حضرت مولانا خان بهادر رحمه الله (عرف مارتونگ باباجی) یوه ادنی نمونه ده چه ماپه وخت دتعلیم کښې قلمبند کړې وه. دحضرت الاستاذ ډیر نفیس اوعمده علمی تحقیقات تدقیقات تشریحات وو.چه په بعض اوقاتو کښې به ئے فهم ته راتلل هم مشکل وواوکله چه به په فهم کښې دراتللونه.بعدعنقریب قلمبند نه کړے شونوهم دضائع کیدلوخطره به وه.اوبنده ته دادواړه مسئلے درپیش وے نولهذا دحضرت مکمل تحقیقاتو کماحقه قلمبندکول څما لپاره مشکل وو. لیکن دمالایُدرک کله لایُترک کله په وجه مادطالب علمی په زمانه کښې باوجودد قلت قابلیت اوکثرۃمصروفیت نه دامجموعه تحریرکړے وه. اگر چه په دے کښې به زمانه خامخا قصورراغلے وی لیکن باوجود ددے په دے کښې بعض تحقیقات اوتشریحات داسے دی چه په عامو شروحو اوحواشیوکښې نیشته دے نولهذا دمعلمینو اودمتعلمینو په خدمت کښې داتحریرهدیه کوم لپاره دافادے عامے او د نشر د فیوضاتودحضرت شیخ اعلی الله درجاته.

اگرچه دبزرگوارم حضرت مولانامغفورالله صاحب دامت برکاتهم دامشوره وه چه ددے تحریرسره نور تحقیقات هم ضم شی چه دادیوآکمل شرح په صورۃ کښې نمودارشی خوداسے ونه شوه یو خودکم همتئ اوکم فرصتئ له وجے نه اوبل له ددے وجے نه چه دحضرت الاستاذ په طرزکښې تبدیلی رانه شی.اوپه اخیر کښې څه دحضرت مولانا حافظ شوکت علی دامت برکاتهم مدرس دارلعلوم حقانیه شکریه اداکوم چه هغوی دگوناگون مصروفیاتو باوجود څما سره ددے کتاب په کتابت او طباعت کښې ډیر تعاون وکه فجزاه الله خیرا.

کتبه العبدالاحقر اسیدالله عفی عنه

۴.ذی الحجه ۱۴۱۹ھ.

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العلمین والصلوٰۃ والسلام علیٰ اشرف الانبیاء والمرسلین محمد وآله واصحابه وذریته واهل بیته اجمعین.

قوله الحمدلله: شروع که مصنفؒ کتاب خپل په حمد سره پس ده ابتداء با لتسمیه نه دپاره دموافقت د کتاب الله او دسنة الرسول ﷺ سره چه کل امر ذی بالٍ الخ دے. پس حمد په لغت کښې وصف بالجمیل علیٰ جهة التعظیم والتبجیل ته وائی. او حمد په دے معنی سره مرادف المدح دے لیکن مصنفؒ ایراد دلفظ دالحمد وکه نه دمدح ځکه چه مذکور په کتاب الله کښې هم لفظ الحمد دے اوپه سنة الرسول ﷺ کښې هم لفظ الحمد دے او بل وارد په حدیث د شفاعة کبریٰ په مقام محمود کښې لفظ دحمد دے. ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائی چه زه به په مقام محمود. ای المقام الذی محمودصاحبهٗ فیه کښې الله تعالیٰ ته اوۀ(۷) ورځے شپې په سجده یم نو هغه به ما ته هغه محامد خپل ؤخائی چه هغه ماته اصلاً معلوم نه وو. بیا به راته الله تعالی وفرمائی چه سل تعطه واشفع تشفع (الحدیث) یا په حمد کښې اختیاریت شرط دے. نو ددے وجې نه فرق ثابت شه په مابین دحمد او مدح کښې نو ځکه مصنف الحمد لله او ئیل نه المدح لله. پس حمد مصدر دفعل متعدی دے او دده لپاره معانی سته

دی. یو مصدر معلوم چه تعبیر ترینه کولے شی په فارسئ کښې په ستودن سره او په پختو کښې په ستائیلو سره.او بل مصدر مجهول دے چه تعبیر ترینه کولے شی په فارسئی کښې په ستوده شدن سره.او په پختو کښې ترینه تعبیر کولے شی په (ستائیلے شوی کیدل) سره.او بل مصدر مبنی للفاعل چه حامدیت دے.او تعبیر ترینه کولے شی په پختو کښې په ده چا ستائیل سره. او بل

مصدر مبنی للمفعول دے چه تعبیر ترینه کولے شی په پختو کښې په(ده چا ستائلے شوے کیدل سره). نو په مابین ده مصدر معلوم او مصدر مبنی للفاعل تلازم دے.او دا رنگه په ما بین د مصدر مهجوله او مصدر مبنی للمفعول کښې تلازم دے.(٦)او بل حاصل بالمصدرمعلوم او حاصل بالمصدر مجهول دی.نو په نیز د مشهورینو باندے حاصل بالمصدرالمعلوم هغه دے چه قابل النسبة وی فاعل وُته او بالفعل منسوب نه وی فاعل ته.او حاصل بالمصدر للمجهول هغه دے چه قابل النسبت وی مفعول وُته او بالفعل منسوب نه وی .لیکن بحرالعلوم وائی چه دا معنی تابع داعتبار د معتبر ده او معتبر کله اعتبار کوی او کله نه کوی. نو دا صحیح نه ده بلکه حا صل بالمصدر المعلوم والمجهول کلیهما.

عبارة ددغه جمله ثنائيه نه مثلاًنو دا جمله لکه جمله ثنائيه شوه په ما نحن فيه کښې مثلاً موجوده فی نفس الامر ده نو دا ددی حيثيته نه چه تعلق قياسی ئے دفاعل سره دے نو تعبير ترينه کولے شی په حاصل بالمصدر المعلوم سره.او ددے حيثيته چه تعلق وقوعی ئے دمفعول سره دے نو تعبيرترينه کولے شی په حاصل بالمصدر المجهول سره نو حاصل بالمصدر المعلوم والمجهول فی الحقيقة شے واحد دے.او تعبير ترينه کولے شی په فارسئ کښې په ستائش سره او په پښتو کښې ترينه تعبير کولے شی په(ستائنه) سره او هر چه دے قدر مشترک نو هغهٔ وجود عليحده نيشته دے.

قوله اللذی نزل الآيات. نزل په تشديد سره نزول نجماً نجماًته وئيلے شی او انزل په نزول دفعة کښې مستعمليگی نو انزل په اعتبارد نزول من اللوح المحفوظ الی السماء الدنيا کښې مستعمليگی او نزّل په اعتبار دنزول من السماء الی الارض بحسب مقتضی الحال سره مستعمليگی.او آيات جمع د آية دِه او آيت په لغة کښې په معنی دمطلق علامے او نشانے سره راځی.او په اصطلاح کښې هغه قطعه د کلام الله ده چه نفس صحت دصلوٰة پرے راځی او مناسبت بين المعنين دا دے چه دا قطعه دکلام الله هم علامه او نشانی ده په صدق د رسول الله ﷺ باندے. او اطلاق د آيت په هغه خط مدوره فا صله بين الآيتين باندے هم کيگی.او دے خط ته هم ځکه آيت وئيلے شی چه دا علامه د فصل بين الآيتين ده. پس آيت يا په

اصل کښې أأية وو همزه ثانيه ساکنه بدل شوه په الف باندے. او ا په
اصل کښې أوُئ دے ابدال د واو ساکنه په الف سره شوے دے. او ا
په اصل کښې آيية وو يا په الف بدله شوه.

قوله وارسل البينات. بينات جمع دبينة ده او بيّن يعني واضحه او واضح او اطلاق ئې په رسول ﷺ هم کيګی لکه حتی تأتيهم البينة رسول من الله الخ. او مراد ترينه ههنا معجزات دی. او معجزاتٌ ته بينات ځکه وائی چه پدے سره وضاحت د حقيت الرسالة کيګی. قوله فطلع الدين دا متفرع دے په نزل الآيات باندے. او طلع يا باالتشديد دے او يا با التخفيف دے بناء بر اول الدين بيا منصوب دے بنا بر مفعوليت او فاعل د طلع ضمير مستکن دے چه راجع دے الله تعالی ته. او بناء بر ثانی الدين مرفوع دے بناء بر فاعلية يعنی په نزول الآيت سره طلوع اووضاحت ددين وشه. قوله وطبع اليقين. دا متفرع دے په ارسل البينات باندے. ځکه په اقامة المعجزات سره انطباع او انتقاش د يقين فی قلوب المؤمنين راځی. او دا هم يا بالتشديد دے يا با لتخفيف دے بناء بر اول به اليقين منصوب شی او بناء بر ثانی به اليقين مرفوع شی کما مرّ. قوله ربنا حرف نداء محذوف دے ای يا ربنا. قوله لک الحقيقة حقاً. تقديم د جار مجرور دپاره دحصراو اختصاص دے. يعنی وجود حقيقی او حقيقة واقعی فقط الله لره دے. ځکه چه وجوددده بذاته غير مستفاد من الغير دے نو دے موجود فی حد ذاته شه او هر چه دی ممکنات

نو دا فی حد ذاتها هالکة الذات با طلة الحقیقة دی کما قال تعالی
کل شیءٍ هالک الا وجهه.قوله وکل مجاز. تنوین په کل کښې
عوض دے دمضاف الیه محذوفه نه ای کل من الممکنات.او مجاز
بفتح المیم دے.یعني حقیقت او وجود دممکناتو حقیقي نه دے
بلکه مجازی دے ځکه وجود ددوی دوجے داستناد الی الجاعل نه
دے نو دوی لره بدون الجعل وجود نیشته بلکه صرف په خلق او
جعل دالله سره ، وجود دی کما قال تعالي الا له الخلق والامر. پس
په ذکر دحقیقت او مجاز کښې براعة الاستهلال دے ځکه براعة
الاستهلال عبارت دے دایراد د هغه الفاظو نه په خطبه دکتاب کښې
چه په کتاب کښې دمعانیو دهغه الفاظو نه بحث کولیشي برابره
خبره ده دغه معاني په خطبه کښې مراد وی او که نه.قوله ولک
الامرتحقیقاً .تقدیم دجار مجرور دپاره د حصر دے یعني هرکله چه
وجوددممکناتو مستفاد من الله شه نو امر په تحقیق کښې لله شه.
نو په دے فقرتینو کښې اشاره وشوه معنی ددے آیت کریمه و ته (الا
له الخلق والامر) پس په ذکر دامر کښې هم براعة الاستهلال دے په
دے شان سره چه مراد به دامر نه په طریقه د عموم المجاز سره ما
یطلب من العباد اراده شي برابره خبره ده چه ترک ئے مطلوب وی
لکه په نهي کښې یا ئے اتیان مطلوب وی لکه په امر کښې.قوله وکل
ای کل من الممکنات مجاز ای یأمر باجازتک قوله اعنة المبادی
بیدیک. اعنه جمع دعنان ده او عنان واګو ته وائي او مبادی جمع د

مبدأ ده.او مبدأ موقوف عليه دشئ ته وائی برابره خبره ده چه موقوف عليه فی نفس الامر وی يا موقوف عليه فی العلم والتعقل وی لکه معرف او حجت شو په نسبت سره معرف او نتيجه وته يا موقوف عليه په معنی د علامه سره وی لکه وقت شه لپاره دصلوة مثلاً. قوله ونواصی المقاصد مفوضة اليک.نواصی جمع د ناصيه ده پمعنی دموئی پيشانی.او مقاصد جمع دمقصد ده.او مراد په مقاصدو سره يا معرفات اونتائج دی چه دا مقاصد دی په نسبت سره بمعرف او حجت وته يا مراد په مقاصدو سره نور مقاصد دنيويه دی. يا مراد په مقاصدو سره مقاصد شرعيه اسلاميه دی چه هغه عقائد صحيحه د اهل سنة والجماعة دی . او بل اخلاق حسنه فعلاً او افعال سيئه ترکاً دی. او اعمال صالحه فعلاً او افعال قبيحه ترکاً دی. پس په فقرتينو مذکورتينو کښی استعاره مکنيه او ترشيحيه اوتخيليه دی په دے شان سره چه مصنفؒ په نفس کښی تشبيه مضمره دمباديو او د مقاصدو ور کړيده ددوابو سره نو دا استعاره بالکناية ده او ثبوت د لوازمو دمشبه به(دواب) چه اعنّه او نواصی دی مشبه لره چه مبادی او مقاصد دی دااستعاره تخيليه ده. او ثبوت دملائماتو د مشبه به چه قبضه ده حکه چه ملائم او مناسب ددوابوسره قبضه وی په دوی باندے مشبه لره دا استعاره ترشيحيه ده.

قوله فانت المستعان .دا جمله إن دے دپاره د جملے سابقے اوهغه

ددے دپاره لم دے چه اعنه المبادی الخ دے. پس ایراددمبتدا او خبر دواړه معرفتین لپاره دقصد د حصر اختصاص دی لیکن مذهب د علامه تفتازانی دادے چه مبتدا اوخبر دواړه چه معرفتین وی نو معرف باللام به محصوراو غیر معرف باللام به محصور علیه وی نو په حکم ددے قانون سره هٰهنا مسند چه المستعان دے محصور شه په انت پورے وهوالمراد.او بمذهب دزمحشری دادے چه مسند او مسندالیه دواړه چه معرفتین وی نو معرف باللام محصور هم کیدے شی او محصورعلیه هم کیدیشی لیکن تعین د محصور او محصورعلیه به دقرائن خارجیو نه معلو میگی نو پس په ما نحن فیه کښې کچرے مونگ حصر د مسند الیه راولو په مسند پورے نو معنی به فاسده شی ځکه معنی به داشی چه الله تعالی محصوردے په مستعان صفت پورے او بل صفت ورله نه دے ثابت وهو کما تری نو قرینه خارجی هٰهنا دال شوه په دے چه ههنا حصر دمسند دے په مسند الیه پورے نه بالعکس.قوله وعلیک التکلان. دا جمله اِن دے لپاره دجملی سابقے چه فأنت المستعان دے او هغه ددے لپاره لِم دے او تقدیم دجار مجرور دپاره دحصر او اختصاص دے او الف لام په التکلان کښې یا عوض دے د مضاف الیه نه ای علیک تکلانی یا غیر عوضی جنس دے.قوله والصلوٰة والسلام علی سیدنا محمد. مصنف ایراد دالصلوٰة والسلام وکه د وجوه نه یو دوجے د امتثال نه په دے قول دالله تعالی باندے چه یایها الذین

آمنواصلوا علیه وسلموا تسلیما.او چونکه مذکور فی الآیات صلوٰۃ او سلام دواړه وو نو مصنفؒ ځکه ایراددکلیهما وکه.او بل ددے وجے نه چه نفوس زمونږه متدنس دی په ادناس بشریو سره او ذات الٰهی متقدس دے په لا نهایته تقدس سره نو په بیننا وبین الله لابدی شوه دیو واسطے نه لپاره د تقرب زمونږه الله وته نو هغه اکرم الاولین والآخرین دے نو مصنفؒ ددے وجے نه ایراد الصلوٰۃ والسلام وکه په دغه واسطه چه تقرب الی الله حاصل شی. اوبل ددی وجے نه چه هر مصنف چه شروع په تصنیف کښې کوی نو دے په لسان القال یا لسان الحال سره مستمد من الله تعالی وی لپاره د اتمام د تصنیف ځکه چه دا یو امر صعب دے اوصلوٰۃ سلام سبب لپاره داجابت دسوال دے لکه په حدیث شریف کښې راغلی دی چه یو سړے مسجد نبوی ته راغے مونځ ئے وکه نو دعا ئے وکړه لیکن صلوٰۃ سلام ئے ونه وئیل نو نبی ﷺ ورته وفرمائیل چه عجلت الخ الحدیث. بیا بل سړے راغے مونځ ئے وکه نو دعا ئے وکړه اوپه نبی ﷺ ئے درودداووے نو نبی ﷺ وفرمائیل چه ستاسوال مقبول دے او دارنګه په نورو احادیثو کښې راغلی دی چه صلوٰۃ سلام سبب داجابت السوال دے نو مصنفؒ ځکه ایرادالصلوٰۃ والسلام وکه چه دے هم مستمد من الله بلسان الحال دے په تصنیف کښې اګر که قولاً سائل اومستمد نه دے. پس صلوٰۃ لغةً دعا ده او په اصطلاح داهل شرع کښې عبارت دے دارکان مخصوصو نه.او دصلوٰۃ چه

نسبت وشي عبادو ته نو مراد ترینه دعا وی او چه نسبت ئے وشی
ملائکو ته نو مراد ترینه استغفار وی او چه نسبت ئے وشی الله
تعالی ته نو مراد ترینه نزول درحمت وی او مراد ترینه ههنا افاضه
دخیر کثیر ده په طریقه دعموم مجاز سره.او سیّدپه اصل کښ سیود
وو بعد دابدال الواو بالیاء نه ادغام الیاء فی الیاء وشه او دا صیغه
داسم صفة مشبه ده.او قانون په صفت مشبه کښ دادے چه
دلالت کوی په ذات مبهمه مع الوصف باندے په طریقه ددوام
اواستمرار سره یعنی دوام او استمرار به ملحوظ وی په دغه ذات
کښ په خلاف داسم فاعل نه ځکه په اسم فاعل کښ لحاظ ددوام
او استمرار الوصف نوی نوددی وجے نه ایراددصفت مشبه
وکړیشه په نعت د نبی ﷺ کښ نو معنی دسید دا چه سیادة کامل
او راسخ دے په ذات دنبی ﷺ کښ.قوله المتمم للحکم بالطریق
الامم. داصفت مادحه دمحمدؑ دے او معنی دالمتمم للحکم آه یا
داده چه دے تا مونږکے دے لپاره احکام شرعیو پطریق متوسطے
سره چه خالی ده دافراط او دتفریط نه.ځکه اصول عقائد په ادیان
سابقو کښ هم مکمل وو.او هر چه دی فروع یعنی احکام نو هغه په
ادیان داسم سابقو کښ په طریقه متوسطه سره نه ووبلکه یا پکښ
افراط وو لکه په دین دموسیؑ ځکه چه بنی اسرائیل دزما نے د
موسیؑ ډیر سرکښه وو نو احکام پرے هم سخت مقرر شو .یا
پکښ تفریط وو لکه په دین دعیسیؑ کښ ځکه چه بنی اسرائیل

دده دزمانے سرکښ نه وو نو احکام پرے هم آسان مقرر شو او است دنبی ؑ چونکه است عظیمه باقیه. الی یوم القیامة دے نو پدیکښ مختلفة الطبائع خلق پیدا کیګی نو ددی وجه نه متوسط احکام پر احکام مقررکړے شو. اوتشریح ده عبارت مذکوره په طریقے مذکورے سره موافق دے ددی آیت کریمه سره چه الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتی ورضیت لکم الاسلام دیناً. یا معنی د عبارت مذکوره داده چه دے تامونکے داخلاق حسنو دے په طریقه متوسطه سره لکه په حدیث شریف راغلیدی چه بعثت لاتمم مکارم الاخلاق او اضافت دمکارم اخلاق ته اضافت دصفت دے موصوف ته او اتمام داخلاق کریمو په نبی ؑ راغلی دے لکه اللّه تعالی فرمائی انک لعلیٰ خلق عظیم. او خَلق جمع د خُلق ده. او خلق عظیمه دادے چه قرآن دچاملکه وګرزی لکه په حدیث کښ راغلی دی چه ده حضرت عائشه ؓ نه چا تپوس وکه د اخلاق د نبی ؑ نه نو ام المؤ منین وفرمائیل چه کان خلقه القرآن نود عقائد صحیحوُ داهل ا لسنة والجماعة سره عقیده ساتل او داعمال صحیحوُ اتیاناً اودنواهیو ترکاًدا په خپل نفس باندے جاری ساتل دیته خلق وائی اوپه اصطلاح د صوفیوکرامو کښ وته مقام وائی او په اصطلاح د حکماء کښ وته ملکه وائی نوکه په چاکښ دصحیح عقیدے یا داعمال صالحو ملکه نه وه نو ده ته مقام نه دے حاصل. اصطلاح د صوفیوکرامو کښ لکه مثلاً داچه عقیده په وحدانیت

دالله تعالی چه الله تعالی واحد لاشریک دے او فقط دے مالک دنفع او نقصان دے نو لازم د دی سره عدم خوف او طمع د غیرالله نه نوکه د چا خوف دغیرالله نه وشه نو د ته ملکه د توحید نه ده حاصله اگر که موحد دے. هذا. قوله والمبعوث بجوامع الکلم الی افهام الامم.دا بل صفت مادحه دمحمدﷺ دے او اضافت دجوامع کلم وته اضافت دصفت دے موصوف وته ای الکلم الجوامع .او کلم جوامع دا چه الفاظ قلیل او معنی اومرام ئی کثیر وی لکه مثلاًایاک نستعین. نو دا جامع دے هر قسم سوال له یا لکه ربنا آتنا فی الدنیا حسنةً وفی الآخرة حسنةً وغیر ذالک او اضافت دجمع جمع په جوامع الکلم او په افهام الامم لپاره داستغراق دے نو په بجوامع الکلم کښ اشاره ده معجزی دنبیؑ ته او په الی افهام الامم کښ عموم بعثت ته اشاره ده.

قوله.وعلی آله. آل په اصل کښ یااهل ووځکه چه تصغیر ئے اهیل راځی.نوها په همزه باندے بدله شوه او همزه بدله شوه په الف باندے.یا په اصل کښ اول وو نو واو بدل شو په الف باندے نو آل شو په دلیل دے سره چه تصغیرئے أویل راځی.اوچاوئیلی دی چه أهیلُ تصغیر د اهل دے او أویل تصغیر د آل دے په دلیل دقول داعرابی سره چه آل وأویل اهل واُهیل. بیا فرق په ما بین د آل او اهل کښ دا دے چه آل خاص دے په اشرافو پورے استعمالاً.او شرافت عام دے چه دنیوی وی لکه په

آل فرعون کښې يا أخروي دنيوي دواړه وي لکه آل الرسول ﷺ او اهل عام دے استعمالاً په اشرافو او غير اشرافو دواړو کښې مستعليگی او بل آل مستعليگی په ذوى العقول کښې او اهل عام دے په ذوى العقول او غير ذوى العقول ټولو کښې مستعمليگی.قوله.واصحابه. صحابي هغه ته وائي چه نبی ئے ليدلے وی په حالت دحيات کښې او ايمان ئے پرے راوړے وي. بيا په حالت داسلام ئے وفات راغلے وی. قوله الذين هم ادلة العقول. يعني چه دوی دلالت کونکي او خودونکي ددين دی عقول دناسو وته.قوله سيّما اى خصوصاً الاربعة الاصول. چه خلفاء اربعه دی اوتخصيص ددوی لپاره داهتمام شان ددوی دے. قوله امّابعد. اما په اصل کښې مهما دے يا اسما دے يا حرف شرط برأسها دے او فعل شرط محذوف دے چه يکن شئ من الاشياء ثابتاً دے او بعدُ ظرف دے د ظروفو زمانيو نه مبنی دے په ضمه باندے او دے کله مبنی وی چه مضاف اليه دده محذوف لفظاً او مراد وی معنیً.او کله معرب وی چه مضاف اليه دده يا محذوف وی نسياً منسياً يا مذکور وی ځکه په دے دواړو حالتونو کښې دده احتياج نيشته او چه محذوف وی لفظاً او مراد وی معنیً نو دده احتياج وی نو مشابهت ئی ده مبنی اصل سره راغے چه حرف دے نودوے وجے نه مبنی دے په ضمه باندے. قوله فيقول العبد. مقوله دقول لپاره دا قول دماتن دے ان السعادة آه.قوله الشکور الصبور.دادواړه صيغتين د

صفة مشبه دی لپاره دمبالغے اومصنفؒ ایراددصفت مشبه وکه

ځکه صفت مشبه دلالت کوی په رسوخ اواستمرار الوصف باندے

په ذات کښی یعنی کمال صبر اوشکر په ذات دمصنف کښی

راسخ اومستمر دے. قوله. الی ذروة الکمال. یعنی بلندئ دکمال

وته. ورقاه او اوچت دے کړی دلره.

عن حضیض القال. حضیض په لغت کښی مطلق پستئ ته وائی او

یا په اصطلاح درياضیینوکښی عبارت دے دهغه نقطی موهوسے نه

په جانب سافل دکره کښی. الی قلة الحال. په دیکښی استعارات

ثلاثه چه مکنیه او تخیلیه او ترشیحیه دی جوړیگی فتأمل فیه

اوقالْ عبارت دے دعلم نه په احکام شرعیو باندے او حال عبارت

دے ده تخلق نه په اخلاق شرعیو سره یعنی په ځان کښی داحکام

شرعیو ملکه پیداکول نه.

ولنعم ماقال. بیت. قال را بگذار مردحال شو:

پیش مردکامل پا مال شو.

یعنی دقال نه مرتبه دحال حاصله کړه او طریقه ئی داده چه پیش مرد

کامل آه قوله ان السعادة باستکمال النفس والمادة. دا مقوله دقوله

ده او مقصوددینه توطیه اوتمهید دے بیان د شرافت دعلم اصول

وته چه دا شرافت دعلم اصول مصنف بیان کړے دے په وجهینو

سره. یو په ضمن د توصیف د جنس علوم اسلامیو کښی. او بل دا

چه داعلم اصول من المبادی دے. او حاصل د عبارت د مصنف دادے چه په ذات د انسان کښې شیئین دی یو نفس دے چه مجرددے ذاتاً نه تدبیراً تصرفاً او بل ماده ده نو فوز دانسان په سعادة د دارینو سره دا هله حاصلیګی چه استکمال دنفس او دمادے ددواړو راشی ځکه چه که چرے صرف استکمال دنفس په علومو سره راشی او استکمال د مادے رانه شی په تخلق سره نو دغه علوم سبب دوبال دے نه سبب دفوزددارینو او هر چه استکمال دمادے نو داخوبغیر ده.استکمال دنفس نه اصلاً نه شی کیدے نو ثابته شوه دا چه فوزدانسان په سعادت ددارینو سره حاصلیګی په استکمال دنفس او دمادے سره. قوله وذالک بالتحقق والتخلق. یعنی استکمال دنفس په تحقق راځی اوتحقق عبارت دے دصیرورة علی الیقین نه یعنی چه نفس ته ملکه دعقائدو اسلامیو کلها حاصله شی او استکمال دمادے په تخلق سره راځی او تخلق دیته وائی چه په بدن باندے اجراء د اوامرو او ترک دنواهیو ملکه وګرځی.او تخلق مشتق دے د خلق نه او خلق او ملکه او مقام شی واحد دے کما مر آنفاً. قوله وهما ای التحقق والتخلق با التفقه فی الدین والتبحر ای التعمق بمواقف الحق والیقین مواقف جمع د موقف ده او موقف صیغه داسم ظرف ده بمعنی جائے وقوف یعنی ځائے د پوئے.او مواقف الحق والیقین عبارت دے دکتاب الله اودسنة الرسول ﷺ نه. قوله والسلوک ای الدخول فی هذا الوادی ای التفقه انما یتأتی ای

يحصل والتأتي الحصول بتحصيل المبادی ومنها علم اصول الاحکام .مصنف ایرادد‌ِ‌ِن تبعیضیه وکه ځکه مبادی دعلوم اسلامیو کثیر دی لکه صرف نحو وغیره شوه.قوله فهو من اجلّ علوم الاسلام .مضنف من اجل علوم الاسلام اووئیل او فهو اجلّ علوم الاسلام ئے اونه وئیل ځکه اجل په علوم اسلامیو کښې علم کلام دے.قوله الّف فی مدحه خطب. مذکور په ما سبق کښې اثبات دشرافت دعلم اصول وو په ما سبق کښې په دلائل لِمیوُ سره اوددی عبارت مذکوره نه بعد اثبات دشرافت د علم اصول دے په دلائیل اِنیّو سره.یعنی تالیف دخطبُ او رسائل په مدح د علم اصول کښې او تصنیف دکتبو عظیموُ دقیقوُ دلیل او اماره اواثر دشرافت دعلم اصول دے. قوله وصنف فی قواعده کتب. تنوین په کتب کښې لپاره دتعظیم او تکثیر دے. او مراد په کتب سره کتابونه د متقدمینو دی چه مأخوذ عنه ددے کتابونو د متأخرینو دے چه مولوی' حسامی' مسلم الثبوت وغیره دی او اصل ایجاد دعلم اصول امام اعظم ابو حنیفهؒ نه راغلے دے او امام ابو یوسفؒ ته تفقه په فقه او اصول کښې دامام اعظمؒ نه حا صله شوے ده اوامام محمد ته تفقه په فقه کښې دامام ابوحنیفهؒ نه حاصله شویده او تنقه په اصول کښې وته دامام ابو یوسفؒ نه حاصله شویده نو په اصل کښې امام ابو یوسف دامام اعظمؒ نه فقه او اصول دواړه حاصل کړی ‹ نو بیا ئے اصول زان له فن کړے دے او فقه ئے زان له گرزولَے دے

امام شافعیؒ ته تفقه په اصول کښې دامام محمد نه حاصل شویدے
نو اصلی معدن او مخزن داصول امام اعظمؒ دے نه امام شافعیؒ لکه
دا مشهور عند الشوافعؒ او مزعومهم ده. اوقواعد جمع د قاعدة ده
او قاعده عبارت دے د قضیه حملیه موجبه کلیه نه چه مستنبط
کیگی ددینه احوال دجزئیاتو دموضوع ددے قضیه کلیه.او طریقه
داستنباط ئے داده چه یو جزئی دجزئیاتو دموضوع ددے قضیے به
موضوع کړے شی او موضوع ددے قضیے به ئے محمول شی نو دا
به صغری سهلة الحصول شی او عین دا قضیه کلیه به ئے کبری شی
نو حال دجزئی دجزئیاتو د موضوع به ترینه معلوم شی لکه دا قول
دنحاتو شه چه زید فی جائنی زید فاعل. وکل فاعل مرفوع. نو
نتیجه به دا شی چه زید فی جائنی زید مرفوع یا لکه دا قول
داصولیینو شه چه الصلوٰة مأموربه .وکل مأموربه واجب.نو
الصلوٰة واجبة وغیرذالک. قوله وکنت صرفت بعض عمری.
مقصوددے عبارت نه بیان د باعث بعیده علی التصنیف دے.او بل
دفع دوهم ده هغه دادے چه شرط دتصنیف کولو دپا ره مهارت دے
په فن کښې او جائز ده چه مصنف ته د مهارت نه وی حاصل په علم
اصول کښې نو مصنفؒ دا وهم دفع که په دے قول سره چه وکنت
صرفت الخ.

قوله فی تحصیل مطالبه. مطالب جمع د مطلب ده او مراد ترینه
قواعد دی او دا رنگه مراد دمآرب نه په عبارت آتیه کښې هم

قواعددی لیکن مصنف تفنن فی العبارت کړیدے په تغیر دالفاظو سره. قوله ووکتت او ګرزیدلے م وو نظری. مرادپه نظر سره نظر عقلی دے.قوله فلم یحتجب عنی حقیقته. دا کنایه ده دحصول دمرتبے د تحقیق نه یعنی مرتبه دتحقیق راته حاصله شوه. او تحقیق عبارت دے داثبات د مدعی نه په دلیل سره. قوله ولم یخف علی دقیقه. دا کنایه ده حصول دمرتبے د تدقیق نه یعنی مرتبه د تدقیق راته حاصله شوه او تدقیق عبارت دے داثبات د مقدما تو ددلیل نه په دلیل سره.قوله ثمّ لامرمّا. دا بیان باعث قریبه علی التصنیف دے او تنوین په لامر کښې لپاره دتعظیم دے اوما زائده مؤکده ده معنی د تعظیم لره.او قانون په ما زائده کښې دادے چه دے به مؤکِد وی معنی د ما قبل لره نو که ما قبل دده نه تنوین لپاره دتعظیم وو نو دے به مؤکِد دمعنی د تعظیم وی او که تنوین لپاره د تقلیل وی نو دے به مؤکِد لپاره دمعنی د تقلیل وی او که تنوین لپاره د ابهام اوانتشاروو نو دے به مؤکِد دپاره دمعنی دابهام اوانتشاروی لکه ما شه پرجلٌ مّا کښې نوتنوین په رجلٌ مّا کښې لپاره د ابهام او انتشاردی ځکه رجل فرد منتشر دے نو ما زائده مؤکد شه معنی د ابهام او انتشار لره.قوله یجمع ای ینضم الی الفروع اصولا لکه قانون د مصنف په دے کتاب کښې دادے چه دے به ذکر د مسئلے وکی بیا ورله اصل بیانوی. والی المشروع. ای ینضم الی المنقول. قوله ویحتوی علی طریق الحنفیة والشافعیة. مصنف آګر که حنفی

دے لیکن کله عنده راجح قول دامام شافعیؒ وی نو هغه مختاره کړی لیکن د هغے نه بیا علماء د مذهب زمونږ اجوبه کوی. قوله ولا یمیل میلا ما. تنوین ههنا للتقلیل دے .قوله بفضل الله وتوفیقه. یعنی ماته اگر که مرتبه دتحقیق او دتدقیق حاصله ده لیکن کتا ب زما صرف په فضل دالله سره شوے دے .قوله کما تریٰ یعنی مشا هده دال ده په حسن او تحسین دکتا ب .قوله معدن. یعنی دا کتاب په شان د معدن دے په اشتما ل کښې په مسائل عمدوُ او جودو باندے لکه معدن چه مشتمل وی په جواهرو په قیمتی باندے. قوله ام بحر. ام منقطعه دے په معنی د بل سره یعنی داکتاب په شان د معدن نه دے ځکه دمعدن په اطرافو احاطه کیدے شی بلکه دے په شان دبحر دے په عدم احاطه کښې په مطالبو دده باندے. قوله بل سحر لایدری . یعنی بلکه په شان دسحر دے لکه په سحر چه یو قسم اثر مرتب کیگی نو دارنگه ددے کتاب د وینا نه بعد یو قسم اثر پریوزی.

قوله وسمیته. ضمیر په سمیته کښې راجع دے کتاب ته چه مذکوردے سابقا په دے قول سره چه کتابا کافیا.قوله بالمسلّم.تسمیه په مسلم سره تفاولاً ده او دا قول چه سلمه الله تعالی داجمله دعائیه ده او خبریه ده لفظاً او انشائیه ده معنی ځکه دا دعا ده او دعا انشاء وی نه اخبار.او بله دا چه که دا اخبا ر شی نو لازمیگی کذب ځکه چه مصنف ته دا علم نیشته چه کتاب ځما

مطروح او مجروح دے یا نه او یا موجب د فرح او سرور دے ی یانه
نو معنی د سلمه الله تعالی اللهم سلمه ده او دا رنگه دوجعله اجعله
ده لیکن مصنف ایراد دجملے خبریے وکه تفاولاً یعنی چه اشاره شی
دے خبرے ته چه گو یا دادعا قبوله شویده او زه ترینه اخبار کوم.او
طرح القاء فی الخلف ته وائی.او مراد ترینه ههنا عدم رواج اوشهرة
دے په درس وتدریس کښی او د جرح نه مراد تشنیعات او تردیدات
دی او سرور اوفرح دواړه الفاظ مترادفه دی لیکن مصنف ایراد
دکلیهما وکه لپاره دتفنن فی العبارة.او مرادبه د احدهما نه به ظاهری
شی اودبل نه به باطنی شی یعنی تعلیم ددے کتاب اوعمل په
مسائلو ددے کتاب باندے سبب دسروراوفرح ظاهری او باطنی دوا
ړو دے یا مراد داحداهما نه دنیوی او د آخر نه اخروی دے. قوله ثم
الهمنی مالک الملکوت. الهام القاء الخیر فی قلب المؤ من ته
وئیلے شی چه بدون الکسب وی. او ملکوت صیغه د مبالغے ده په
ملک کښی نو ملک معنی نفس با دشاهی او ملکوت ډیره غټه
بادشاهی لکه طاغوت چه مبالغه ده په طغیان کښی یا جبروت چه
مبالغه ده په جبر کښی وغیر ذالک.اوکله اطلاق دملکوت په عالم
ملائک باندے کیگی لکه وئیلے شی عالم ناصوت اوعالم ملکوت
او عالم مشاهد اوعالم الغیب.اووجه داده چه اصلی فرمانبردار
دالله تعالی او ډیر طاقت واله مخلوق دالله تعالی ملائک دی چه
یو ملک ټوله دنیا په یو پر باندے او چتولے شی.قوله ان تاریخه

مسلم الثبوت.

یعنی په تاریخ ددے کتاب باندے مشتمل دے لفظ د مسلم الثبوت لکه هکذا. م/ ٤٠ س/ ٦٠ ل/ ٣٠ م ٤٠ ا/ ١ ل/ ٣٠ ث/ ٥٠٠ ب/ ٢ و/ ٦ ت/ ٤٠٠) نو ١١٠٩ ددے تاریخي نوم دے. قوله الا الکتاب الخ. مقصوددینه تنبیه ده په بیان د مقاصدو ددے کتاب باندے اجمالا ځکه مصنف بعد بیا تفصیل کوی او تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی. قوله علی مقدمة فیما یفید البصیرة. مراد د مقدمة نه مقدمة الکتاب ده چه عبارت دے دطائفةمن الکلام تذکر امام المقصود لارتباطها به ونفعه فیها نه. اومصداق ئے یا الفاظ داله مخصوصه دی یا معاني مخصوصه مدلوله دی یا مجموعه د الفاظ خاصو او معانیو مدلولو ده ځکه چه احتمال دنقوشو انفرادا او احتما عا دواړه ساقط دی په کتاب کښې نو دارنګه په مقدمه کښې چه جزء من الکتاب دے او مرادد فیما یفید البصیرة نه مقدمة العلم ده چه عبارت دے د مایتوقف علیه الشروع فی العلم نه ای علی وجه البصیرة الکاملة. اومصداق ئے علوم ثلاثه دی. چه معرفت دتعریف العلم او معرفت دموضوع دے یعنی تصدیق بالموضوع یعنی بموضوعیة الموضوع ځکه فقط موضوع مفرد دے نو متعلق به د تصدیق نشی کیدے او معرفت الغایه یعنی تصدیق بالغایه ای بغایته ځکه صرف غایه هم مفرددے نو متعلق بها د تصدیق نشی کیدے. پس کچرے د مقدمے نه مرادالفاظ داله مخصوصه شی نو

مراد به د مقدمة الكتاب نه معاني شي او كه د مقدمة نه مراد معاني شي يا مجموعه دالفاظلو او معانيو شي نو مراد به دفيما يفيد البصيرة نه بيامعرفت د تعريف العلم او تصديق بالموضوع والغاية شي چه دا حاصل دى ددغه معانيو مدلولو خاصونه.

او مقدمة العلم چه دغه علوم ثلاثه دى چه معرفت دتعريف العلم او تصديق با الموضوع والغاية دے داځكه مفيد البصيرة دى چه دشے چه تعريف هم معلوم شي او مضوع ئے هم معلومه شي او غايه ئے هم معلومه شي لكه مثلاچه غايه دعلم صرف چه معرفت د مادے او د هيئة د صيغے دے.او يا غايه دنحوے چه صيانة عن خطأ اللفظى دے نو دا چه معلوم شي نو بيا متعلم په محنت اوشوق سره تحصيل ددغه علم مشروع فيه كوى.او هم دارنگه چه موضوع العلم معلومه شي نو موضوع خو ما يبحث فيه عن عوارضه الذاتية ته وائي او اثبات د عوارضو ذاتيو موضوع لره مسئله ده نو په علم بالموضوع سره معلوميت اجمالي د مسئلے وشو او هركله چه مسئله بيا تفصيلاً ذكر شي نو اوقع في ذهن سي ځكه تفصيل بعد الاجمال اوقع فى الذهن وى. قوله اما مقدمة ففى حد اصول الفقه وموضوعه وفائدته. كلمة اما تجئ لتفصيل الاجمال السابق نحو جائني ذيد وعمر وبكر اما ذيد فاكرمته اما عمر فأهنته اما بكر فألبسته وغير ذلك فالمصنف ذكر امورا كثيرة وهى المقدمة والمقالات والاصول الاربعة

والخاتمة شرع فی تفاصیل تلک الامور فقال اماالمقدمة. وانما اورد المقدمة معرفا باللام ههنا لا فیما سبق لان قرینة العهد ههنا موجودة وهی ذکر المقدمة سابقاً وغیر موجودة فیما سبق لعدم ذکرالمقد مة قبلها. ولانه لو اورده منکراً والمذکور سابقا ایضا منکر والنکرة اذا اعیدت نکرة یکون الثانی غیر الاول فیکون المعنی ح هذه المقدمة غیر المقدمة المذکورة سابقاً اللتی هی مفیدللبصیرة فهذه المقدمة لایکون مفیداللبصیرة فیلغو ذکرها. ولان النکرة مدلولها مطلق الفرد سواء کان مقدمة علم الاصول او مقدمة علم الحدیث اوالفقه وغیرها فلایصح قوله ففی حد اصول الفقه الخ لان مطلق المقدمة لیست فی حداصول الفقه وقوله ففی حد اصول الفقه علی حذف المضاف ای ففی معرفت حداصول الفقه وموضوعه وفائدته وانما قلنا بحذف المضاف لئلا یرد ان المشارالیه بقوله اما المقدمة هی التی تقدم ذکرها بقوله علی مقدمة فیما یفید البصیرة ومجردوجود حد اصول الفقه وموضوعه وغایته فی نفس الامر لیس مفیدا للبصیرة ووجه الدفع ان مرادنا معرفة حد اصول الفقه ومعرفة موضوعه وغایته لا مجرد وجود هذه الامور فی نفس الامر ولاشک ان معرفة هذه الامورمُفیدللبصیرة. ثم المراد بعرفة الحد بمعرفته التصوری ای العلم بتعریفه وبمعرفة الموضوع التصدیق به ای بموضوعیة الموضوع بأن هذالشئ موضوع هذالعلم لان نفس الموضوع مفرد لا یتعلق به التصدیق وکذا

المراد بمعرفة الغاية التصديق به ای التصديق بأن هذالشي غاية هذالعلم لان الغاية ايضا مفرد لايتعلق به التصديق. فان قيل. چه حد عبارت دے دتعريف الشئ نه په ذاتياتوصرفو سره چه جنس او فصل دی او مذكور فی تعريف الاصول ذاتيات نه دی او هر چه دے حد په اجزاء خارجيو سره نو اجزاء العلوم يعنی اجزاء خارجيه خو مسائل دی نو حد په بعض اجزاء خارجيو سره صحيح نه دے او هر چه دے حد په كل اجزاء خارجيو سره نو دا اگر كه جائز دے لكه دا قول شه چه البيت هو السقف مع الجدران ليكن ههنا حد په جميع اجزاء خارجيو سره غير ممكن دے د وجے د عدم قدرت نه په احاطه بجميع المسائل باندے. او بل دوجے د لزوم د تعريف الشئ بنفسه نه ځكه علم اصول عبارت دے د جميع مسائلو خپلو نه. او بل ددے وجے نه چه حد په اجزاء خارجيوسره چه مسائل دی كه وشی نو مقدمه به مقدمه نه شی بلكه مقاصد به شی. او كه څوک اووائی چه زه په مابين د جميع مسائل دعلم اصول كښی يو قدر مشترک پيدا كړم نو هغه به جنس شی او بيا به بينها مابين الا متياز وگرزوم هغه به ئے فصل شی نو تعريف حدی بالمسائل به صحيح شی نو مونږ وايو چه قدر مشترک په مابين د يوه مسئله كښی هم نشی پيدا كيدے فضل دجميع مسائلو نه ځكه چه موضوع د مسئلے به كله د مقولے د جوهر نه وی مثلا او محمول به ئے دمقولے د عرض نه وی او نسبت خو دائما دمقولے نه عرض نه وی نو كه قدر مشترک په

مابین دمسئله واحده کښې پیداشی نو مقولات عالیه به مقولات عالیه نه شی هف. نو دتقریر سابق نه معلوم شو عدم صحت دحد حقیقي لپاره د علم اصول نو دا قول د مصنف چه ففی حد اصول الفقه دا غلط شو قلنا. چه په حد کښې اصطلاحین دی یو اصطلاح د مناطقو ده او بل اصطلاح داهل عربیو او اصولینو ده نو په اصطلاح دمناطقو کښې حد عبارت دے د تعریف بالذاتیات نه او هر چه دے حد په اصطلاح د اهل عربیة او اصولیینو کښې نو حد عبارت دے د مطلق تعریف جامعه مانعه نه نو مراد په حدسره ههنا معنی مصطلحه داصولیینو او اهل عربیو ده نه معنی مصطلحه دمنطقیانو. قوله اما حده مضافاً فالاصل لغةً ما یبتنی علیه غیره.

زده کړه داخبره چه د علم اصول دپاره اسمین دی یو اسم لقبی او بل اسم اضافي نو مصنف تعریف د علم اصول کوی په اعتبار داسمینو سره لپاره دزیادت توضیح او بل لپاره ددے چه اشاره وشی دیته چه مرادههنا معنی لقبی ده نه معنی اضافي پس معنی لقبی منقوله ده او معنی اضافي منقول عنه ده او مناسبت بینهما مصنف بیان کړیدے په دے قول آیته خپل سره چه ثم هذالعلم آه او مصنف معنی اضافي مقدمه کړه په معنی لقبی باندے ځکه معنی اضافي منقول عنه ده لپاره د معنی لقبی او منقول عنه اصل وی پ نسبت سره منقول ته او بل ددے وجے نه چه معنی اضافي کالجز د لپاره د لقبی والجزء مقدم علی الکل پس په معنی اضافي د اصول

الفقه کښې اجزاء ثلاثه دی یو اضافت دے چه تعبیر ترینه کولے شی
په ده سره او هر کله چه دا معنی ظاهره او معلومه فی النحو وه نو
ددغے وجے نه مصنف دغه معنی متروکه کړه پاتے شو جزئین چه
اصول او فقه دی نو ددے تشریح به وکړی. او اصول مقدم وو نو
داصول تشریح ئے مقدم کړه. قوله افید انه اذا اضیف الی العلم الخ.
مقصود ددے عبارت نه یو تمهید دے رد وته په هغه چا چه ئے د
اصول نه په اصول فقه کښې قواعد اراده کړی دی. او بل دفع دوهم
ده په دے شان سره چه هرکله د اصول لپاره معانی کثیره شو. چه
معنی لغوی او معانی اصطلاحیه دی نومراد ههنا به جمیع وی او که
بعض به وی او چه بعض مراد وی نو کم بعض. نو مصنف به قانون
کلی ذکر کړی چه اضافت داصول چه علم ته وشی نو مراد ترینه
دلائل وی. قوله فمن حمل.
دا رد دے په هغه چا چه د اصول نه چے په اصول فقه کښې قواعد
اراده کړی دی په دے شان چه دا قول خلاف دے د قانون کلی نه.
قوله علی ان قواعد العلم مسائله لامبادیه. دا رد آخر دے په هغه چا
چه داصول نه په اصول الفقه کښې قواعد اراده کړی ده. حاصل درد
دادے چه داصول فقه معنی لقبی منقوله ده د معنی اضافی نه او په
مابین د منقول ومنقوله عنه کښې لابدی وی د مناسبت نه او که
مراد د اصول نه په اصول الفقه کښې قواعد شی نو بناء په دے تقدیر
مناسبت بین المنقول والمنقول عنه به رانشی ځکه معنی د اصول

الفقه به په ذغه تقدير قواعد الفقه شی او قواعد الفقه نه دی مگر مسائل الفقه دی نو حاصل المعنی د اصول الفقه دا شو چه مسائل الفقه او په اصول الفقه مسائل د فقه نه بیانیگی نو مناسبت په مابین دَمنقول عنه چه معنی اضافی ده اصول الفقه ده اود منقول الیه کښې چه معنی لقبی ده اصول الفقه متحقق نیشته او چه مراد داصول نه په اصول الفقه کښې دلائل شی نو بیا موافقت دقانون کلی سره هم راځی لکه دا ظاهره ده او مناسبت په ما بین دمنقول عنه اومنقول الیه کښې هم راځی لکه دیته اشاره کړیده مصنف په دے قول خپل سره چه ثم هذا العلم ادلة اجمالية للفقه. نو مناسبت بین المعنین راغے . فأن قيل. چه په علم فقه کښې خو ادله تفصیلیه مذکور دی نو څه حاجت شه ادله اجمالیو ته. نو قلنا چه یحتاج اليها عند تطبيق الدلائل التفصيلية على احكامها الخ حاصل دادے چه دا ادله اجمالیه محتاج الیها ده دلائلو تفصیلیو دی په حین د انطباق ددوی کښې په خپلو مسائلو باندے او احکام جمع د حکم ده او حکم په معنی د مطلق خطاب سره هم راځی. او په معنی دخاص خطاب چه خطاب د واجب تعالی دے هم راځی او په معنی د نسبت تام خبری ایجابی یا سلبی هم راځی او په معنی د انتساب امر الی امر آخر ایجابا او سلباً دا دمقولے د فعل نه دے هم راځی اوپه معنی د محکوم به هم راځی او په معنی دمجموع القضیه هم راځی او ههنا ترینه مراد حکم په معنی د مجمو

القضيه دے نو مراد داحکامو نه قضایا دی چه مسائل دی.قوله کقولنا الزکوة واجبة الخ. دا مثال دے لپاره دکون ددلائل اجمالیو اصولیو محتاج الیها ددلائلوتفصیلیو فقهیو عند الانطباق په مسائلو خپلو باندے.حاصل ددلیل دمسئلے فقهی لپاره چه الزکوة واجبة په نمط دقیاس اقترانی سره دادے چه الزکوٰة مأموربه وکل مأموربه واجبة فا الزکوٰة واجبة. هر چه دے اثبات دصغریٰ نو لقوله تعالی وآتو الزکوٰ ة.اوهر چه دے اثبات الکبری تودوجے ددے مسئلے اصولی نه چه الامر للوجوب.اوحاصل ددلیل دمسئلے مذکورے لپاره په نمط دقیاس استثنائی سره دادے چه لو کانت الزکوٰة مأموراًبه لکان واجبةً لکن المقدم حق فالتالی مثله.اما حقیة المقدم فلقوله تعالی وآتو الزکوة واما وجه الملازمة فلاجل المسئلة الاصولیة وهی قولنا الامر للوجوب نو دلیل تفصیلی چه آیت دے په انطباق کښں په مسئله خپله محتاج شه مسئلے اصولی ته فثبت المطلوب.

قوله ولیس نسبته الی الفقه کنسبته الی المیزان الخ. مقصد ددے نه ردد ے په بعض علماء باندے چه هغوی قول کړیدے په دے چه نسبت د اصول فقه وته په شان د نسبت دٔ منطق دے حکمت وته. حاصل الرددادے چه نسبت داصول فقه وته په شان د نسبت دمنطق الی الحکمة نه دے ځکه ددلائل تفصیلیه د مسائل فقهیو ای من حیث الصیغه مادة او هیئة دافرادو د موضوع د مسائل

الاصول نه دی لکه مثلا داقول دالله تعالی چه وآتو الزکوة چه دا
دلیل تفصیلی د مسئلے فقهی دے داد دموضوع دمسئلے اصولی
لپاره فرد دے ځکه مسئله اصولی داده چه الامر للوجوب نو
موضوع په دے مسئله کښې امر دے نو آتو الزکوة د امر فرددے
یالکه دا مسئله فقهیه شوه چه الزناء حرام. نو دلیل تفصیلی ددے
مسئلے داقول دالله تعالی دے ولاتقربو الزنیٰ نو دادلیل تفصیلی
فرددے دموضوع دمسئلے اصولی نه چه دا مسئله ده چه النهی
للتحریم نو ولاتقربوا الزنی الخ دنهی فرددے چه موضوع دمسئلے
اصولی ده. او په خلاف د منطق نه ځکه منطق باحث د معقولات
ثانیو نه دے او حکمت باحث د احوال د موجودات خارجیو نه دے
نو دلیل تفصیلی دمسئلے فلسفی فرد دموضوع د موضوع د
مسئلے منطقی نه شی کیدے. لکه مثلاً دا یومسئله فلسفیه ده
الفلک کروی الشکل. ددے دلیل تفصیل دادے .چه لان الفلک
ذو طبیعة واحدة وکل ما یکون ذا طبیعة واحدة فهو کروی الشکل
ای شکله الطبعی یکون کرویا ینتج ان الفلک کروی الشکل .
نودمسئلے فلسفی لپاره دلیل تفصیلی داشه چه لان الفلک ذو
طبیعة واحدة چه صغری دے لکه چه دمسئلے فقهی لپاره دلیل
تفصیلی آتو الزکوة وو چه مأخذ الصغری وو او دا دلیل تفصیلی
چه لان الفلک ذو طبیعة واحده ماده وهیئة د افرادو د موضوع
دمسئلے منطقی نه دے ځکه موضوع دمسئلے منطقی به یا خود

١ معقول ثاني وی یابه فرد وی د معقول ثاني نه یا به عرض ذاتي دمعقول ثاني وی یا به نوع دعرض ذاتي دمعقول ثاني وی کما هو المتقرر في محله. او دا قول چه لان الفلک ذو طبیعة واحدة یو ددے امور مذکوره نه ندے بلکه داد معقولاتو اولیونه دے اومعروض دمعقول ثاني گرځي چه یحتمل الصدق والکذب دے فافهم لعلک لاتجدهُ. قوله والفقه حکمه الخ. هر کله چه فارغ شه مصنف د بیان د تشریح د مضاف نه چه اصول دے نو شروع ئے وکړه په تشریح د مضاف الیه کښې چه فقه ده نو دفقه لپاره به مصنف تعریفات ذکر کړی او په تعریفات القوم باندے به اعتراضات وکړی او دخپل مختاره تعریف ترجیح به ثابته کړی. پس حکمت په لغة کښې اتقان العلم والعمل ته وائي او په اصطلاح کښې علم باحوال الموجودات علی ما هي علیه في نفس الامر بقدر الطاقة البشریة. او مراد په طاقت بشری سره طاقت بشری د اوساط الناس دے او مراد په علم سره هغه ملکه علمیه ده چه حاصله شوے وی په سبب د بذل دطاقت علمي سره نو ددوجے نه اطلاق دفقیه په مقلد نه شي کیدے. یعني حمل د فقیه په مقلد نه شي کیدے ځکه هغه ته ملکه نه وی حاصله. پس حکمت په تعریف دفقه کښې جنس دے شامل دے حکمت نظری او عملي ټولو لره نو په فرعیة سره ترینه خارج شو حکمت نظری یعني علم کلام او په شرعیة سره ترینه خارج شو حکمت عملي دفلاسفو. قوله لایقال الخ. ای لا

يحمل حملاً اشتقاقيا ځکه حمل غير اشتقاقي ئے لکه چه په غير مقلد نه کيگی نو دا رنګه ئے په مجتهد هم نه کيګی. قوله لتقصيره عن الطاقة. چه معتبر دے په تعريف د حکمت کښې. قوله والتخصيص بالحسيات احتراز الخ. مقصد ددے عبارت نه يو ردګ په هغه چا چه قيد حسية ئے په تعريف د فقه کښې زائد کړيدے لپاره داخراج د علم تصوف. اوبل مقصد دفع داعتراض ده دخپل نفس نه. حاصل داعتراض دادے چه تعريف د مصنف مانع نه دے ددخول الغير نه دا خل شو پکښې علم تصوف ځکه علم تصوف هم حکمة شرعية فرعية دے او سره ددے نه چه علم تصوف خارج دے دعلم الفقه نه ځکه اکثرو علماء خارج کړيدے. اوبل ددے وجے نه چه غيريت د علم تصوف د علم فقه نه معلوم دے دحديث نه ځکه په حديث د عمر بن الخطاب کښې راغلی دی چه د مشکوٰة شريف اول حديث دے او د صحيحينؒ دبخاریؒ مسلم په کتاب الايمان کښې تفصيلا مذکور دے چه جبرئيلؑ په صورت غير معروفه کښې راغے نو سوال ئے وکه دنبیؐ نه چه ما الايمان؟ فقال النبیؐ الايمان ان تؤ من بالله وملائکته وکتبه ولقائه ورسله وتؤمن بالبعث الآخر فقال يارسول الله(ﷺ)ما الا سلام؟ قال الاسلام ان تعبدالله ولاتشرک به شيئا و تقيم الصلوٰة المکتوبة وتؤدی الزکوٰة المفروضة وتصوم رمضان قال يارسول الله ما الاحسان قال ان تعبدالله کانک تراه فانک ان لاتراه فأنه يراک (الحديث) نو

دحدیث مذکور نه معلوم شو غیریت د په مابین د علوم ثلاثو کښې چه علم کلام او فقه او تصوف دی، ځکه ان تؤمن بالله وملائکته الخ اشاره شوه علم کلام ته او ان تعبدالله وتقیم الصلوٰة الخ کښې اشاره علم فقه وته او دا چه ان تعبدالله کأنک تراه اشاره شوه علم تصوف ته ځکه دا اشاره ده مراقباتو او مشاهداتو ته. اوحاصل ددفع دادے چه په تعریف د علم فقه کښې مذهبین دی یو مذهب دمتقدمینو اوبل مذهب د متأخرینو دے. مذهب د متقدمینو دادے چه علم تصوف داخل دے په علم فقه کښې او مذهب د متأخرینو دادے چه علم تصوف خارج دے د علم فقه نه نو مبنی د اعتراض د معترض په مذهب متأخرینو ده او کلام د مصنفؒ مبنی دے په مذهب دمتقدمینو. قوله حدیث محدث ای اصطلاح جدید. یعنی مذهب دمتأخرینو دے او کلام د مصنف مبنی دے په مذهب دمتقدمینو. اواحتراز دعلم تصوف نه په حسیة سره ځکه حاصلیگی چه علم تصوف باحث دے دافعال اوحالاتود قلوبونه او د طرق داصلاح داخلاق نه اوهغه غیر حسی دی اگر که آثار ئے محسوس دی.قوله نعم الاحتراز عن الکلام عرف معروف.مقصوددے عبارت نه دفع د اعتراض ده چه واردیگی په مصنفؒ. حاصل داعتراض دادے چه هر کله چه کلام د مصنف مبنی شو په مذهب د متقدمینو نو په مذهب د متقدمینو باندے خو علم کلام هم داخل دے په فقه کښې ځکه امام ابوحنیفه تعریف

د علم فقه کړیدے په معرفت النفس مالها وما علیها سره او دا تعریف فقه' او کلام او تصوف ټولو له شامل دے نو اخراج د علم کلام هم صحیح نه شه حاصل ددفع دادے چه بناء په دغه تعریف منقول عن ابی حنیفهؒ اگر که علم کلام داخل دے په فقه کښې لیکن په نزد دنورو اکثرو ئے اخراج شائع او متعارف دے نو اخراج ئے صحیح شه په خلاف دعلم تصوف نه ځکه اخراج دده نه دے شائع.
قوله وعرفوه. غرض ددینه ایراد دتعریف القوم دے او بیا اعتراض دے په دے تعریف القوم لپاره داشارے ضعف ددے تعریف ته قوله بأنه العلم. چونکه د علم اطلاق په نفس مسائلو او په تصدیق با لمسائل هم کیګی نو ددے وجے نه دا تعریف مورد د اعتراض آتیه شه په خلاف د حکمت نه چه مذکور دے په تعریف اول کښې ځکه د حکمت اطلاق په ملکه کیګی نو هغه مورد الاعتراض نه شه پس علم په تعریف الفقه کښې جنس دے شامل دے کل علومو لره شرعیه وی او که غیر شرعیه. قوله بالاحکام الشرعیة. په دے سره خارج شو کل علوم غیر او هم شرعیه هم دارنګه خارج شو په دے سره علم کلام ځکه مراد په احکامو شرعیو سره احکام شرعیه فرعیه دی او احکام شرعیه هغه دی چه معلومیت ئے په شرعے سره وی برابره ده چه عقل له پکښې دخله وی او که نه وی. چه وی لکه علم په وجود الواجب شه ځکه هر عاقل قائل په وجود الواجب دے او هر چه دی دهریه نوهغوی هم انکار د وجود واجبی نه نه شی

کولے بلکه قول په وجود الواجب په هغوی لازم دے. لیکن په مصداق ئے خطاء شوی دی چه مصداق ئے وله ماده وئیلے ده. قوله عن ادلتها التفصیلیة. قال صاحب التوضیح ای العلم الحاصل عن ادلتها الخ. فعلم انه متعلق بالعلم واضافت الادلةالی ضمیر الاحکام للعهد والمعهود الادلة الاربعة فخرج علم المقلد لان علمه حصل من قول المجتهد لا من الادلة الاربعة وبقید الحیثیة خرج علم الرسول ﷺ والجبرئیلؑ.) دا په اعتبار دمتعلق سره چه مستفادے صفت دے لپاره دعلم او په دے سره احترازراغے د علم الرسول ﷺ او دعلم دجبرئیلؑ نه اودا رنګه د علم الله نه او دا رنګه د علم المقلد نه ځکه ادلّه جمع ددلیل ده او په دلیل کښ لابدی دی دترتیب دامور معلومو نه تدریجاً لپاره دتحصیل دمجهول چه داعبارت دے دنظر اوعلم دجبرئیلؑ او اودرسولؐ علم حدسی وی نه نظری اوعلم دالله خو علم حضوری دے اوعلم دمقلد حاصل من الدلیل نه وی ځکه استنباط خاصه دمجتهد ده. او قید د من حیث الدلیل دعن ادلتها سره سرعی دے لکه ددے تحقیق خیالی کړے دے.

قوله واورد انکان المراد الجمیع الخ. حاصل الایراد دادے. چه مراد په احکام سره په دے قول کښ چه علم بالاحکام لره په تعریف الفقه کښ یا به جمیع احکام وی یا به بعض وی که اول وی نو تعریف د فقه صادق نه شه په علم د هغه چا چه فقاهت دهغوی کا لشمس فی

نصف النهار دے لکه امام ابوحنیفهؒ شه ځکه دامام ابوحنیفهؒ نه سوال ددهر شوے وو اوهغه لا ادری وئیلی وو. اودارنګه دامام مالکؒ نه سوال شوے وو دڅلویښت مسائلو نو هغه د څلورو مسئلو جواب ورکړے وو او شپږ دیرش مسئلو کښې ئے لاادری وئیلی وو. اوکه ثانی وی نو تعریف د فقه مانع نه شه ددخول الغیرنه داخل شه پکښې علم دمقلد ځکه کله دمقلد علم په یو مسئله فقهیه راشی ددلیل تفصیلی نه او سره ددے چه مقلد فقیه نه دے او تقید د مقلد ئے په عالم سره ځکه وکه چه مقلد جاهل ترینه خارج شی.قوله واجیب. الخ. دا جواب په اعتبار دشق اول سره دے یعنی مراد په احکام سره جمیع احکام دی. لیکن ایراد عکساً غیر واردد ے ځکه مراد په علم سره په دے قول کښې چه انه العلم ملکه ده یعنی ملکه داستنباط ده د احکام شرعیونه او شک نیشته دے چه امام ابوحنیفهؒ اوامام مالکؒ ته ملکه حاصله وه او بالفعل علم که ورته نه وو حاصل نو وجه به دا وه چه هغه به استخراج ته نه وو فارغ.قوله و بأن المراد بالادلة الامارات. دا جواب دے په اختیار د شق ثانی سره حاصل دادے چه مرا د په احکام سره عام دی چه کلاً وی اوکه بعضاً وی او مقلد عالم نه داخلیګی په تعریف الفقه کښې ځکه مراد د ادله ؤ نه امارات دی یعنی دلائل ظنیه دی او علم راوستل په وجوب العمل په احکام شرعیو ددلیل ظنی نه داد خواص دمجتهدنه ~~و~~ دے او مقلد ته دا مرتبه نه ده حاصله ځکه ددده

اگر که په وجوب العمل دیو حکم شرعی علم حاصل شی دیو دلیل ظنی نه لیکن دا ددلپاره مستند نه دے او نه د غیر لپاره دا مستند کیدیشی بلکه مستند ددلپاره قول دمجتهد دے . فان قیل.
چه هر کله مراد د ادلو نه دلائل ظنیه شو نو دلیل ظنی خو مفید دظن وی او فقه خو علم قطعی دے. قلنا. چه دلائل ظنیه مفید دظن دی او ظن مفضی دے علم قطعی وته بوجوب العمل با لاحکام الشرعیة باندے نو په اصل کښں په تعریف کښں تقدیر دے نو تقدیر العبارت هکذا شه بانه العلم القطعی با لاحکام ای بوجوب العمل بالاحکام الشرعیة الخ.قوله وتحصیل العلم ای العلم القطعی بوجوب العمل بالاحکام الشرعیة بتوسط الظن ای بواسطته من خواص المجتهد اجماعاً. ځکه چه په مجتهد عمل په مقتضی دظن دده سره واجب دے په اجماع سره. په دے شان سره چه یو مجتهد به یو مسئلے ته وائی چه هذامظنونی مجتهداً وکل ما هو مظنون مجتهداً فهو واجب العمل ینتج هذا واجب العمل. هر چه دے صغریٰ نو داد بدیهیاتو نه دے اوهر چه دے کبریٰ نو دا ثابت دے په اجماع سره. او هر چه دے مقلد نو هغه اثبات د مسئلے په دلیل کذائی سره نه شی کولے . ځکه که دے داسے قیاس منعقد کوی چه هذا (ای هذه المسئلة)مظنونی مجتهداً وکل ما هذا شانه فهو واجب العمل. نو کبری خو مسلم دے لیکن صغری ممنوع دے اوکه دا سے قیاس منعقد کوی هذا مظنونی مقلداً وکل ما هذا شانه

فهو واجب العمل نو صغری خو مسلم دے لیکن کبریٰ ممنوع دے. ځکه مظنون د مقلد نه په د واجب العمل دے اونه په مقلد آخر ځکه تقلید د مقلد حرام دے چه دے مسئله من عند نفسه کوی اوکه نا قل وی د مجتهد نه نو بیا خوئے تقلید صحیح دے لیکن دا فی الحقیقت دده تقلید نه دے ځکه دے محض مبیّن د قول المجتهد دے لکه مُنګ وایو چه فلانکی مولانا صاحب داخبره وئیلے ده نو دا په حقیقت کښ دده تقلید نه دے ځکه دے خو مبین محض دے. واما المقلد فمستنده قول مجتهده لاظنه ځکه په وجوب العمل دده په قول استدلال نه شی قائم کیدے چه دے اُووائی چه هذا مظنونی مجتهداً آه کمامر آنفاً. ولا ظنه. ای المجتهد ځکه چه ظن دمجتهد دده لپاره نه علم حضوری دے چه صغریٰ بدیهی ترینه جوړه شی اونه وله علم حصولی دے. او چه دمجتهد قول وته وُرسی نو بیا به علم ئے راشی نو بیا استدلال به سمے کولے شی چه هذه المسئلة مظنون فلان مجتهداً. وکل ماهذا شانه فهو واجب العمل فهذا واجب العمل. هر چه دے صغریٰ نو د وجے دقول دمجتهد نه او کبریٰ دوجے د اجماع نه.قوله نعم یلزم علیه ان یکون الفقه عبارةً الخ. دا اعتراض دے په شق ثانی دجواب. یعنی که مراد په ادلو سره امارات شی نو لازم به شی دا چه فقه علم بالاحکام الشرعیة نه شی نو تعریف مذکوره به تعریف نه شی بلکه تعریف الفقه به دا شی چه علم بو جوب العمل الخ دلیل د ملا زمے او

بطلان التالي معلوميګي په ادنی تأمل سره.قوله الا ان يقال انه رسم فيجوز باللازم. دا جواب دے ددے اعتراض مذکوره نه حاصل دادے چه بطلان اللازم ممنوع دے ځکه چه که فقه عبارت شي دوجوب العمل بالاحکام نه نهٔ د علم بالاحکام نه نو په دے کښې باک نيشته ځکه دا مذکور چه علم بوجوب العمل بالاحکام دا تعريف باللازم دے او تعريف باللازم رسمي وی. نو دا رسم شه هر چه دے کون د تعريف باللازم ځکه دعلم بالاحکام الشرعية سره علم بوجوب العمل بالاحکام الشرعية لازم دے لکه چه دمجتهد چه دهغه علم بالاحکام الشرعية هم راغلے دے او علم بوجوب العمل بالاحکام الشرعية ئے هم راغلے دے. قوله وفيه ما فيه.دااشاره ده ته په وجهينو سره .وجه اوله داده چه نه منم چه علم بوجوب العمل بالاحکام لازم دے د علم بالاحکام سره ځکه دمقلد علم بالاحکام را غلے دے او علم بوجوب العمل بالاحکام ئے نيشته کما لايخفی. اووجه ثاني داده چه که ومنم چه دا لازم دے نو لازم په دوه قسمه دے يو لازم محمول دے او بل لازم غير محمول دے او تعريف چه جائز دے نو په لازم محمول سره جائز دے نه په لازم غير محمول سره ځکه چه معرف الشئ مايحمل عليه. او دا لازم غير محمول دے ځکه داسے نه شي وئيلے چه العلم بالاحکام الشرعية علم بوجوب العمل بالاحکام الشرعية ځکه په حمل کښې لابدی وی داتحاد نه او اتحاد ههنا منتفي دے دوجے د تبائن دمعلومينو نه کما لايخفی.

قوله ومن ههنا.ای من اجل ان الفقه عبارة عن العلم بوجوب العمل بالاحکام وهو قطعی علمت اندفاع ما قیل.دا اشاره ده جواب د اعتراض آخروُ ته چه واردیگی په تعریف الفقه. حاصل داعتراض دادے چه تعریف دفقه په انه العلم سره صحیح نه دے ځکه فقه اصلا علم نه دے ځکه علم په اصطلاح د متکملینو کښ عبارت دے داعتقاد جازمه ثابته مطابقه نه دنفس الامرسره او فقه دباب دظنونو نه ده نو دا اعتقاد جازمه نه شه نو علم نه شه نو تعریف ئے انه العلم سره باطل شه.حاصل الجواب دادے چه فقه عبارت دے دعلم نه په وجوب العمل بالاحکام باندے اوداقطعی دے نه ظنی قوله علی ان العلم الخ. په علاوه سره مصنف جواب آخر کوی داعتراض مذکوره نه حاصل ئے دادے چه اطلاق دعلم په ما لیس بتصور باندے هم حقیقت دے نو شامل شه اقسام ار بعوُدتصدیق لره چه ظن او جهل مرکب اوتقلید اویقین دی نو مراد ترینه ههنا ظن دے.قوله وبعضهم جعل الفقه عبارةً عن الاحکام الخ. هرکله چه په تعریف القوم باندے اعتراض وارد وو په وجهینو سره وجه اوله دا چه مراد په احکام سره یاکلاً یابه عام اخلے دکلاً اود بعضاً بناء په اول تعریف منقوض دے جمعاً او بناء په ثانی تعریف منقوض دے منعاً اووجه ثانی چه ذکر دعلم په تعریف الفقه کښ صحیح نه دے نو ددے وجے صاحب د توضیح تعریف بدل که په دے شان چه فقه عبارت دے د احکام قطعیونه یعنی د علم نه په احکام قطعیو باندے

نو اعتراض ثانی وارد نه شه ځکه فقه دباب د ظنونو نه نه شوه او دا رنګه وارد نه شه اعتراض اول ځکه چه مراد په احکام سره جمیع احکام قطعیه دی او ثبوت د لا ادری چه راغلے دے نو احکام ظنیو کښې نه په قطعیو کښې یا عام دی دبعض او کل نه او مقلد نه دا خلیګی ځکه هغه ته ملکة الاستنباط نه ده حاصله ځکه ملکه عبارت دے دکیفیة راسخه نه په نفس کښې لپاره د استخراج د مسائلو او مقلد ته کیفیة راسخه نه دے حاصل.قوله ویلزم علیه خروج المسائل بالادلة الظنیة. دا رددے په تعریف دصاحب ــــــــ التو ضیح باندے حاصل داچه هر کله فقه د احکام قطعیونه عبارت شه نو هغه مسائل چه ثابت وی په ادلو ظنیو سره دا خارج شود فقه نه او که څوک اُووائی چه جائزه ده چه مسائل ثابته په ادلو ظنیو سره د قلیل کاالعدم وی نو خروج ئے مضر نه شه نو مصنف وائی چه وهی کثیرة ځکه مسائل فقهیه به کله ثابت شوی وی په اجماع ظنی سره او کله په قیاس سره چه ظنی دے او کله په خبر واحد سره چه ظنی دے. الا تریٰ ان السنة الخ. داتنویر دماقبل لپاره قوله والتزام ذالک الخ. یعنی که صاحب التوضیح د خروج ددے التزام وکړی نو دا التزام بلا دلیل دے.قوله و جعل العمل الخ. دارددے په تعریف داامام فخر الا سلام باندے چه تعریف د فقه ئے کړے دے چه دا علم دے په احکام شرعیو سره دعمل نه. قوله بعید جداً. ځکه فقه علم مدون دے او د علم مدون اطلاق کیګی په جمیع مسائلو

باندے یا په قدر معتد په د مسائلو باندے یا تصدیق بالمسائل ب
ملکه باندے او عمل ددے یو نه هم جزء نه دے. پس هرکله چه فارغ
شه مصنف د بیان د حد الاصول نه مضافاً نو شروع ئے وکړه په بیان
د حدالاصول کښې لقباً فقال واما حده لقباً فهو علم بقواعد. قواعد
جمع د قاعدة ده او قاعده هغه قضیے حملیے موجبے کلیے ته وائی
چه مستنبط کیګی ترینه احوال د جزئیا تو د موضوع وقد مر
تفصیله. قوله یتوصل بها الی استنباط الخ. یعنی چه په سبب ددے
قواعدو کنیو سره توصل کولے شی استنباط داحکام فقهیو ته
ددلائلو تفصیلیو نه طریقه د توصل ئے داده چه اثبات د مسئلے
فقهي چه د خپل دلیل تفصیلی نه کیګی نو که دلیل ئے په نمط د
قیاس اقترانی سره وو نو مسئله اصولیه به دلیل لپاره داثبات الکبری
وی او که په نمط دقیاس استثنائی سره وی نو مسئله اصولیه به ئے
دلیل الملازمه وی وقد مر مثاله فتذکر.قوله قیل حقائق العلوم
المدونة الخ. مقصوددے عبارت نه یا اعتراض دے په دے شان سره
چه اطلاق الحد په تعریف الاصول باندے صحیح نه دے ځکه حد
عبارت دے دتعریف بالذاتیا ت نه او د علم اصول چه مدون دے
تعریف بالذاتیات نه شی کیدے لوجے ددلیل آتیه نه نو جواب ئے
دادے چه حد په اصطلاح د میزانینو کښې تعریف بالذاتیات دے
اوهر چه دے په اصطلاح د علم عربیت او اصول کښې نو مطلق
تعریف جامع مانع ته وائی نو ههنا په حد سره مراد مطلق تعریف

وي. يا مقصود دمصنفٌ دفع دو هم ده په دې شان چه هر کله په تعريف الاصول باندې ئې اطلاق دحد وکه نو واهم به وهم کوو چه مراد به په حد سره معنى مصطلحه د ميزانينو وى چه تعريف بالذاتيات وي نو مصنفٌ دفع ددې وکړه چه مراد په حد سره مطلق تعريف وي نه حد ځکه کوں ددې تعريف الاصول حد غير صحيح وي. يا ئې مقصود بيان د حقيقت الحال دې. او تقيد دعلومو ئې په المدونة سره ځکه وکه چه نفس علم خو يا نظرى متعسر التحديد وي يا متيسر التحديد دې يا من اجلى البديهات دې نو حقيقت ئې مسائل يا ادراکات المسائل نه دى. او تقيد دمسائلو ئې په مخصوصو سره وکه ځکه نفس مسئله بماهوهو نه ده دحقائق العلوم نه. قوله فالمفهومات الکلية. دا شروع ده په ما هو المقصود کښې يعنى هغه قضاياء کليه چه ذکر کولے شى په مقدماتو کښې لاجل التعريف چه مفيد البصيرة دې په کتاب کښې چه دا رسوم دى حدود نه دى ځکه که حدود شى نو حد خو تمام حقيقت وى او مسائل مخصوصه هم حقيقة العلم دې نو د شے واحد لپاره حقيقتين او ذاتين راغله. قوله والا لزم تعدد الذاتى. لکن تالى باطل مقدم ئې مثل شه. وجه دملازمے داده. چه جنس فصل تمام حقيقت وى او مسئل چه اجزاء خارجيه دعلوم دى داهم حقيقت د علم مدون دے او داقول چه کالعشرة مثال دے لپاره دمرکب من الاجزاء الغير المحمولة ځکه عشره مرکب دے د عشره وحداتو نه